محمد هارون خپل شعشعي

۱۳ می ۲۰۱۳

# کندهار پاڼي ته يو سرسري نظر

## د کندهار پاڼي و مسوول مدير، ښاغلي خوشال خان، د ليکني هيأت او قلمي همکارانو ته!

درنو عزيزانو!

تر هر څه مخکي د تودو سلامو او نېکو هيلو تر څنګ د اولسي بيدارى او فرهنګي ودي په ارزښتناک کار کي د دي لوی بري مبارکي وړاندي کوم.

کله چي د افغانستان د ګوټ ګوټ، په تېره بيا کندهار او شاوخوا سيمو په ناکراره سياسي- امنيتي حالاتو کي د خپلو منورو ځوانانو بي باکانه مزلونه ګورم، له وياړ او غروره په کالو کي نه ځاييږم.

زموږ هيواد د خپل اوږده تاريخ په خورا حساس پړاو کي دئ. هري خواته اورونه بل او خطرناکي لوبي رواني دي. په داسي شرايطو او حالاتو کي د دي ګډ تاريخي کوړ د بېلابېلو دوښمنانو د کرغېړنو څېرو او نخشو رسوا کول او د خپلو ادبي، علمي او فرهنګي ميراثو د ساتني په خاطر نه ستړي کېدونکي او پرله پسي کوښښونه، د هر رسالتمن افغان ژورناليست، شاعر او ليکوال ملي او فرهنګي جهاد بلل کيږي. تاسي ښېله شکه په دي سپېڅلي جهاد کي غټه برخه اخيستي ده. خداي مو سرونه لوړ، ارادې پياوړي او قلمونه پياوړي لره!

د کوروداني او قدرداني بله خبره دا ده، چي ما غوندي بي نوم و نښانه سړي ته مو د خپل ارزښتناک کار او فعاليت په اړه د څه ويلوحق را کړئ، چي دا په خپله ستاسي د فکري بلوغ استازيتوب کيږي؛ ځکه دا د هوښيارو او معقولو کسانو لار ده، چي د خپل فرهنګي او وطني مسووليت د ښه ادا کولو دپاره د هيڅا نظر پوښتنه شرم نه ګڼي.

درنو انديوالانو!

زما په نظر هره رسالتمنه ورځپاڼه، اونيزه، مجله يا هره بله چاپي او نشراتي خپرونه بايد د خپلي ټولني د حقايقو روښانه هينداره يي( وي ). په بله وينا، ښه ورځپاڼه، جريده، مجله يوازي هغه خپرونه ده، چي د خپلو خلکو غوښتني، اړتياوي او پېچومي بيان کي. د خداى، وطن او اولس د لاري ژورناليست، شاعر، اديب، څېړونکی او

هر بل علمي- فرهنګي شخصيت هم يوازي هغه څوک دئ، چي د دغسي سپېڅلي هدف او ارمان د تحقق په لار کښي مبارزه وکي.

ګرانو دوستانو!

تاسي تر ما ښه پوهېږئ، چي دا ګړی په افغانستان کي په درځنو ورځپاني، جريدې او مجلې چاپېږي. د راديويي خپرونو او تلوېزوني کانالو شمار هم و درځنو ته رسېدلئ دئ؛ خو دا ګرده چاپي، سمعي او بصري خپروني د روښانګرې، اولسواکې، هيوادپالني او افغانپالي دپاره زيار او زحمت نباسي. په ډېري خواشينې سره ځينو د اشغالګرانو، ځينو د وطن پلورونکو او مزدورو واکمنانو، ځينو د فرهنګي يرغلګرو، ځينو د غلو، غاصبانو او مافيايي کاروباريانو د کرغېړنو ګټو د صيانت او ضمانت دپاره لستوني را نغښتي دي؛ او په دې لار کي له هيڅ ناروا او انساني ضد عمل څخه نټه نه کيي. د همدې دليل له مخي نو د پردو جاسوسي شبکو او تپل سوو مزدورو واکمنانو په تورو او چټلو پيسو راوتلي ورځپاني، مجلې، ويبپاني، راديوګاني او تلوېزونونه د دې هيواد د ملي وحدت او سياسي- فرهنګي پر مختګ پر ځای زموږ د رواني توري ورځي او ملي بدمرغۍ له مهمو او اساسي عواملو څخه ګڼل کيږي. د دې لنډي يادوني مخسد دا دئ، چي يوه ورځپاڼه، جريده، مجله، ويبپاڼه، راډيو، تلوېزون يا هر بله اطلاعاتي او فرهنګي وسيله بايد هرومرو د خپلي ټولني د مظلومو او بې اوازه خلګو ريښتينې اواز يي، که نه نو تر ګټي يي تاوان ډېر دئ. دې لوړ انساني ارمان ته رسېدل له دوو لارو ممکن دي:

- اول دا چي په خپرونه کي چاپېدونکي عکسونه، خبرونه، رپوټونه، مقالي او نور مطالب بايد ټل پر روښانه واقعيتو ولاړ يي. پر واقعيتو اتکا په دې مانا ده، چي د اثارو په سموالي، دقت او ناپېيلتوب کي بايد له هيڅ اړخه ويل نه يي. رسالتمن ژورناليست، شاعر، اديب او محقق د يوې ټولني د لارښود او ښوونکي مقام لري. په دې خاطر نو بايد د ناخوالو پر پېژندنه، برملا کولو او غندلو سربېره، د هغو د حل پر معقولو لارو چارو هم خبري و کي؛ مثلاً کله چي د ځتلېيو نه ټولولو، برقي پرچوی، ټرانسپورټي بې نظمۍ او داسي نورو مشکلاتو په وجه د ښاروالۍ، برېښنا اداري، ټرانسپورټي شرکتو او نورو مسوولو مؤسسو و بې مسووليتۍ او بې کفايتۍ ته ګوته نيسو، بايد د هغو د حل، ښه سمون او پرمختګ پر لارو چارو هم بشپړ غَوَر وکو.

- دوهم دا چي په خپرونه کي چاپ سوي مواد بايد د خلګو په ساده او خوږه ژبه وړاندي سوي يي. هغه څه چي په ساده او روانه په ژبه نه يي ليکل سوي، نه يوازي و خلګو ته څه نسي ورکولای، بلکي برعکس د ټولني له ذهني انجماد او فرهنګي پر شا تګ سره هم مرسته کيي. له تېرو څلورو- پينځو لسيزو راهيسي په پښتو کي د «معياريتوب » په نامه خورا خطرناکي او لېونۍ بازۍ رواني دي. زموږ د مندو او پلرو خوږه، اسانه او ساده پښتو يي په داسي پېچلو، مروړلو او زموخته ټکو، ترکيبو او عبارتو لړلي ده، چي که څه موده نوره هم پر تېره سي، د هر چا له ښې به و وزي. هر ورځ له ژبې څخه د پرديتوب په ګونا داسي لغتونه ايستل کيږي، چي له سوونو کلو راهيسي زموږ په خلګو کي باب دي؛ او د ژبې د هر علمي معيار له مخي زموږ د لغوي زېرمي نه بېلېدونکي برخه ده. زموږ د لغوي زېرمي د دې ارزښتناکي برخي پر ځای و ژبې ته د داسي لغتو او عبارتو سېلاو را روان دئ، چي د څو پېښه ګرو او تعصب لړلو کسانو له ناجوړو ذهنو څخه را وزي. په ژبه کي د څو کسانو دا ډول احساساتي او غيرعلمي لاسوهني پښتانه دې ته اړباسي، چي د ادبي تندي او علمي اړتياوو دپاره و نورو ژبو خاصتاً پاړسي او اوردو ته مخه کي. دا کار له ورايه د پښتو ژبې د ښخولو او نابودی په مانا دئ.

د خوشالۍ او نېکبختۍ ځای دئ، چي ستاسي اونيزه تر ډېره حده د ژبې له دې چپه او راسته غوبلو څخه خوندي پاته ده؛ خو د ژبې د اسانولو، پراخولو او پرمختګ بهير پر دې ځای نه بشپړيږي. د دې مخسد دپاره بايد:

- کرار کرار په لیکلو او ویلو کي د بېلوالي یا دورنګۍ مخه ونیسو؛ د مثال په توګه پنځه، پنځم، هنداره، هلمند... د پینځه، پینځم، هینداره، هیلمند... په بڼه وکارو.

- د هیواد جغرافیایي نومونه هر چیري د ځایي خلګو د منلي او مروج تلفظ له مخي ولیکو. هیڅکله ارزګان/ اورزګان، ارغستان، ارغنداب، لویه ویاله، موسی قلعه او داسي نور و نه کارو؛ ځکه زیاترو تاریخي او جغرافیایي نومو د زمانو په تېرېدو سره خپل رنګ او جوله اړولي ده. له دي خاطره یي باید همېشه په هغه بڼه و لیکو، چي خلګ یي وایي. کله چي زموږ خلګ دا نومونه د روزګان، ارغسان، ارغنداو، لو واله، موسا کلا... په بڼه وایي، موږ یي د اړولو حق نه لرو. د کابل، پېښور، پکتیا، قندوز/ کندوز، کندهار، هیلمند، هرات او زرو نورو جغرافیایي سیمو پخواني نومونه یو هم په اوسنۍ بڼه وه. نن ګورو چي هر چیري په اوسنۍ بڼه باب دي. موږ باید له ژبي څخه ادبي او تاریخي معما جوړه نه کو. تل په هغه ژبه خبري وکو، چي خلګو ته په اسانۍ د پوهېدو وړ یي.

- د پښتو په جنوب - لوېدیځه لهجه کي خورا ډېر مخففات کارېږي، چي په پښتو ادب کي هم ژوري او مزبوتي ریښي لري؛ مثلاً کي( که یي/ کړي )، مي( مه ئي)، څي( څه ئي )، زي( زه ئي )، تي( ته ئي )، بي ( به ئي )، ني( نه ئي )، وي( و ئي )، ول( ویل یي )، غه( هغه)، غي( هغي )، څه( څخه )، وا( وایي!)، نېخه( نه یم خبر )او داسي نور. په نورو لهجو کي هم داسي سکښتونه او جوړښتونه ډېر دي. ژورنالیستان، شاعران، لیکوالان او محققان باید د پښتو د شفاهي او ګفتاري ژبي دا مهم خصوصیتونه په خپلو ژورنالیستیکو، ادبي او علمي اثارو کي ژوندي و ساتي، که نه نو د پښتو ژبي دا ارزښتناک شفاهي جوړښتونه د وخت په تېرېدو سره له لاسه وزي. موږ او تاسي باید په دي واقعیت ښه سد ورسوو، چي د یوه قام ژبه همدا شفاهي سکښتونه او جوړښتونه دي، نه هغه څه چي د دې یا هغه خپلسري شاعر، لیکوال، ژبپوه او داسي نورو په فتوا په کتابو، رادیوګانو او تلوېزونو کي خپرېږي.

- په جنوب - لوېدیځه لهجه کي ځیني ټکي په هغه بڼه نه ویل کیږي، چي د پښتو په نورو لهجو کي باب دي؛ مثلاً بیلګه، کچه، دنده، جګړه، خوله او داسي نور. په دې لهجه کي دا ټکي په دې ډول باب دي:

بولګه( خج پر دوهمه څپه). بولګي یي جمع. په نورو لهجو کي جمع « بیلګي ».

ګچه.

دنده( خج یا فشار پر دوهمه څپه ). جمع یي دندي. په نورو لهجو کي خج یا فشار پر لومړۍ څپه. جمع یي «دندي».

جګړه( فشار پر دوهم سپوږ ): جمع یي جګړي. په نورو لهجو کي فشار پر دوهم سپوږ. جمع یي( جګړي ).

خولۍ. په جنوب - لوېدیځه لهجه کي خوله په دوو ماناوو کارېږي:

۱- خوله: دهن/ دهان.

۲- خوله: عرق.

ستاسي په ځینو مطالبو کي مي بیلګي او کچه ولیدل، چي زموږ و خلګو ته ناآشنا دي. د نورو لهجو لیکوال پوره ازادي لري، چي بیلګه،کچه او خوله و وایي او ولیکي؛ خو د جنوب - لوېدیځي لهجي او کلتوري میراثو ساتونکو ته نه ښایي، چي د اولسي ژبي روح مړه کي. په واضح او روښانه ټکو باید و وایم، هیڅوک دا حق نه لري، چي بیلګه سهي او بولګه غلطه وګڼي یا د بخښل، کښېنستل، نخښه، ږغ پر ځای ښنل، کېنستل، نښه، غږ او داسي نور د معیار په توګه وړاندي کي. د ژبي معیار د دې یا هغه په فتوا نه، بلکي د خلګو د سیاسي، فرهنګي، اجتماعي او اقتصادي اړیکو د نیژدېوالي او ټینګښت پر اساس منځ ته راځي...

- په لغوړنه مطبوعاتي پښتو کي مي« څلور لاره » ډېر اروېدلي ده، چي په حقيقت کي د ايراني « چهار/ چار راه » هو به هو ترجمه ده. دا چي نور يي استعماليي که يا، خپل زړه يي، خو کنداريان بايد په هيڅ دليل او هيڅ پلمه د « شهيدانو چوک » پر ځای د « شهيدانو څلور لاره » و نه کاږي. ستاسي په يوه مضمون کي مي دا ناوړه او تېل سوئ ټکی ولېدئ، چي په ريښتيا سره يي خوابدی کړم. موږ ټول بايد له ځانه پوښتنه وکو، چي ولي بايد د سوو کلو اشنا، اسانه او ساده ټکی( چوک ) د ايرانيانو په کرغېړنه څلور لاره واوړي؟! زه چي وايم د ناچله معيار پر خره سپاره ړانده او کاڼه ژبتراشان ( د داسي کسانو دپاره د ژبپوهانو ټکی و ژبي او پوهي دواړو ته لوی سپکاوی دئ) زموږ د خلګو په ژبه شوډنګ کيي، دغه يي له زرو مثالو څخه يو مثال دئ.

عزيزانو!

د دې تباهی او بربادئ په ټينګه مخه ونيسئ!

په څورلسمه ګڼه کي د اېمل فيضي په بيان کي داسي راغلي دي: « . . . په افغانستان کي د نړيوالي ټولني ډېر مهم حضور شتون لري...» زه اېمل فيضي له نيژدې نه پېژنم؛ ځکه نو قضاوت نسم کولای، چي دا د هغه بيان دئ که ستاسي؟ حقيقت دا دئ، چي دا نه د يوه کنداري بيان دئ، نه د يوه پښتانه.« ډېر مهم حضور شتون لري » ياني څه؟! حضور او شتون خو دواړه يوه خبره ده. که يوه خبره هم نه يي، دا سي نابابه او ناوړه ترکيب په پښتو کي ګرسره نسته. موږ بايد د پارسي، اوردو، انګرېزي يا نورو ژبو لغتونه او عبارتونه په داسي ډول استعمال نه کو، چي زموږ د ژبي له نرخ و نوا سره سر و نه خوري. په پښتو کي هر څه سته. فقط پلټنه او ګروېږنه غواړي. که په پارسي کي وايي: کشور جاپان. تاسي هيڅکله د جاپان هيواد مه ځني جوړوئ. ګرده دونيا په دې پوهېږي، چي جاپان يو هيواد دئ. « د جاپان هيواد د توکيو ښار» پر ځای « د جاپان د توکيو ښار» لنډ، ښکلی او په زړه پوري دئ. اعتصاب، له يو کار څخه د پر شا کېدو، نټه کولو او پرهيز کولو په مانا دئ؛ ځکه نو بل نفيه ټکي ته اړتيا نه پيدا کيي. د دې دليل له مخي د« نه خوړو اعتصاب » سهی نه دئ؛ خو له دې مضمون سره چاپ سوئ عکس له سلو څخه سل نومري اخلي؛ ځکه ډېر جذاب عکس دئ. اما د چِل زيني/ چهل ځيني عکس ډېري نومرې نه ګټي؛ ځکه د عکس ډېره برخه شنه اسمان نيولي ده. د ايرانی کونسلګری/ کنسولګری عکس که څه هم د خلګو د اوړدو کتارو ښه ثبوت وړاندي کيي، خو د غټوالي په وجه ستاسي د اونيزي له طبيعت سره ډېره سمون نه لري. ما ته تر يوه يا دوو غټو عکسو څو کوچني عکسونه ګټور ايسي. مهمه خبره دا ده، چي هر عکس بايد د لوی مضمون جواب و وايي؛ او په داسي کمال او هونرمندی اخيستل سوئ يي، چي څوک يي په ليدلو موړ نسي. په دې خبره کي هيڅ شک نسته، چي د جذابو او په زړه پورو عکسو اخيستل د يوه پوه ليکوال تر مضمون ليکلو په کمه کار نه دئ.

- په اونيزه کي مي د جاپان د توکيو کيسه وليدله، خو د شعر، طنز او داسي نورو ادبي ژانرو يا صنفو ځرک نه ښکارېدئ. د ښار اقتصادي، سپورټي، هونري او فرهنګي رپوټونه بايد هيڅکله له ياده و نه ايستل سي.

- عنوانونه بايد لنډ خو جامع او مانع يي. ياني په عينِ لنډوالي کي د ټول مضمون مفهوم افاده کړای سي. کله کله بايد په لوی لاس داسي عنوانه هم و ټاکل سي، چي په خلګو کي د ټول مضمون د لوستلو تلوّسه يا بې صبري(**suspense**) پيدا کي.

- د کندهار پاڼي په انګرېزي عنوان کي ما ته د (**Kandahar Pana**) پر ځای(**Kandahar Post**) يا (**Kandahar Times**) ښه برېښي.

- كه د مضامينو د پاته برخي دپاره « نور پر ۵ مخ » يا « پاته پر ۵ مخ » وكښل سي، له لوستونكو سره يي په اسانه موندلو كي نوره هم مرسته كيي.

- د ټولني د هري برخي له مخكښو او وتلو كسانو سره خبري او مركي د نورو په روزنه او پالنه كي ارزښتناكه ونډه لرلاى سي. له دي سَوَبه نو په اونيزه كي يو و نيم مركو ته ځاى ور كول هم ډېر ګټور او معقول كار دئ.

- په ليكنو كي بايد د پاراګرافو و جلاكولو ته هرومرو پام وسي. تاسي ته مالومه ده، چي په ځينو ورځپاڼو كي د هر پاراګراف شرو( شروع ) د څو تورو په اندازه تش پرېږدي. ځيني نوري ورځپاڼي او ويبپاڼي بيا د پاراګرافو تر منځ د يوې تشي ليكي په پرېښوولو سره بېلابېل پاراګرافونه جلا كيي.

- د مضامينو سم اوډل، د خوندورو فانټو او مناسبو سايزو كارول هم كولاى سي د ورځپاڼو او اونيزو په ښكلا او جذابيت كي ارزښتناكه برخه واخلي.

د وخت د لږوالي په وجه مي په دوارو ګڼو كي ټول خپاره سوي مضمونونه و نه لوستاى سول. د « مشت نمونهٔ خروار » په ډول مي دا څو ټكي وليكل. هيله لرم چي تاسوغوندي هوښيارو او ځيركو ژورناليستانوسره د ژورناليزم او ليكوالى په ډېر لوى او ارزښتناك رسالت كي څه نا څه مرسته وكي.

د روښنګرى او فرهنګي مبارزې په سپېڅلي او پتمنه لار كي ستاسي د لا لويو برياوو په تمه.

هارون خيل

لندن